(c) ketabton.com: The Digital Library


| | |
|---|---|
| لوبې کوي | ۲۰۸ |
| د یلدا شپه | ۲۰۸ |
| پیغام | ۲۰۹ |
| عمر | ۲۱۶ |
| لوړې شملې | ۲۱۷ |
| د مجاهدو ماشومانو ترانه | ۲۱۸ |
| د ایمان زور | ۲۲۰ |
| شهیدانو | ۲۲۰ |
| چیرته ولاړ شم؟ | ۲۲۱ |
| د تاریخ عبرتونه | ۲۲۲ |
| د حق لمر | ۲۲۵ |
| د ځان مرګ | ۲۲۶ |
| د ترږې په یاد | ۲۲۷ |
| د سر سیوری | ۲۲۸ |
| غم | ۲۲۹ |
| فلکه | ۲۳۰ |
| ګران | ۲۳۱ |
| یو لیک | ۲۳۶ |
| چاربیته | ۲۳۷ |
| د ننګ تاریخ | ۲۳۹ |
| سوی مسری | ۲۴۰ |
| د نیل پر غاړه | ۲۴۱ |
| د وحشت غیږ | ۲۴۸ |
| خرس مرګي | ۲۴۹ |
| د اقتدار جنګ | ۲۴۹ |
| نوړین | ۲۵۰ |
| امتحان | ۲۵۱ |
| د خوشال بابا په مزار | ۲۵۲ |
| مقابله | ۲۵۳ |
| تیږې غاټول | ۲۵۳ |
| د ذبیح الله شهادت | ۲۵۴ |
| فردوس | ۲۵۴ |
| منظوم لیک | ۲۵۵ |
| لوی فاتح | ۲۵۶ |
| دروند غم | ۲۵۶ |
| د بهمن | ۲۵۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی بشیر شو، دی نذیر شو ټول بشر ته
د بشر مخنیوي وکړه هدایت ته

درودونه دې پرده دده پر آل وي
سلامونه استوم دده امت ته
ژوندي مونږ ته عقیده او هم جهاد کړ
مسلمان ځکه خوښیږي شهادت ته

۱۳۶۲/۹/۲۶

پېښور، کتابیان

# ژړا

فلکه ستا له لاسه ده وژړل، ما وژړل
هغه او دغه، خپل، پردي، دوست او اشنا وژړل
د غم لپاره یې یو ځای هم سره پرېښنودو
هرچا ځبلا، ځبلا، ځبلا، ځبلا، ځبلا وژړل

۱۳۶۲

جوزا

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمې اوس نشته، په ګلو هم ګولۍ واورېدې
په ایلبندونو، څړځایونو باندې اورېږي شو

چې له مستۍ نه به اوبو پکښې څړپوه وهل
هغو شپلو، هغو ناوونو باندې اورېږي شو

چې به مېلې وې، ساتېرې به وې، سیلونه به وو
په اخترونو، په جشنونو باندې اورېږي شو

د ژوند لمحه - لمحه په سره وحشت لنبه - لنبه شو
په ورځو، شپو، په مهالونو باندې اورېږي شو

چې انتظار به د پردیس لالي کېده ورپکښې
په هغو لارو کندوونو باندې اورېږي شو

لیلا به وېږي څولول، لالي به لوخړنګه کړي
چې په لوونو درمندونو باندې اورېږي شو

د خزانونو پاڼې سوې نه دي ایرې - ایرې دي
د بهارونو په هارونو باندې اورېږي شو

* * *

سهار غوبل د غوایه وشو، روس ما بنام ته راغی
په سهارونو، ماښامونو باندې اورېږي شو

←

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما قاتلـه!

ارته د نیا داور تبه شوله زما د پــــاره
له تحمل نه یم وتلی د دنیا د پــــاره

اوس راښکاره شوه ملیونونه ککړه په کار دي
ستا د خیالي جنت ددې خیالي بنا د پــاره

دا ستا رژیم دی چې ژرندونه کړي دانسان پرېنو
زه به ژرندګار کړم دانسان داعتلا د پـاره

زما قاتله!اما چې نن د بلا پلاســـو وژنې
ښکاري ستالاس به هم نرېږي د سبا د پـاره

خبر دی که سرمې ترکیتو ترڅمکه لاندې کړلو
د ښکار نه یې به میوه ورکړم هرچا د پـاره

زه که فنا هم شم بقامې په فنا کېښې ویـنم
څکه فنا به وي زما ملي بقا د پـاره

د وحشي شپې تورې سینه کېښې چې بلکه غوندې مشي
ماته دی ویاړ چې شم بخرې دې رڼا د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مور غېږ

ماښام چې له موره بېل شي د هرچا څپېړې خوري
بې واره وار په وار له هرې خوا څپېړې خوري
څاپېره وي ورته خوره، چې په هر لوري یې مخ شي
که خپل وي که پردي ترې په بيا - بيا څپېړې خوري
ګلونه د دنیا ورته تېره - تېره اغزي شي
د ګل په شان مخ یې د دنیا څپېړې خوري
د مور په ودان کور به یې چې تېر عمر را تېر وو
د دې ټولې له لاسه د جفا څپېړې خوري
سپین لمر وي، سپین سباوي خو څاپېره یې پرې تور کړي
"سبا" ترې وې هيله يې "بېګا" څپېړې خوري
څو مور وي تر هغه د مور د غېږې آرزو نه مري
تېرېږي به دا وخت که نن سبا څپېړې خوري

۱۳۶۱/۱۲/۲۱

پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بریالی پاڅون

هر افغان وُ پخپل کور خوښ او مسعـــود
خپل یې ښته ، خپل یې تاوان وُ خپل یې سود
د عادي ژوندون څښتن وو پخپل کور کښې
نزول هم نه وُ کړ نه یې وُ صـــعود
بل واکي نـه وه ، خپلواك یې خپل وطن وُ
واکداران یې که هر څو وو نـا محمود
د خپـل خـدای په عبادت یې ملاکښه وه
د بل چا پېښـې یې نه ووړ په وجـــود
افغان او سر لوړي یې وه په بـــرخــه
په خپل ژوند په خپـل وطن وو پوره خوشنود
په خندو نو بریدل او پرېږ تلل بـــه
کړ کـوله به یې هڅـــه د بـــهبود
خو څو کســه نـا خـلف پکښې پیدا شول
کړل یې ړنګ د عقیدې پاخه حــدود

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاڅو چې لا اجازه رفیع تر وړ کبره
کښېنه نه ځوک، دې مقام ته راختل ځوک؟

۱۳۶۳/۱/۲۱

## مقابله

په ننګ، په غیرت، په سپین میدان مقابله ده
روانه په وطن کښې دافغان مقابله ده
یو لوړ تر دي تانکونه، الوتکې او بمونه
بل خوا دارادې او د ایمان مقابله ده

۱۳۶۱/۷/۱۸

## ټپي غاټول

په وطن کښې اوس ـ اوس هم لاله غوړېږي
خو له لاسه د وحشت ټر ټپي کېږي
لا یې داغ د سوي زړه سنبودلی نه وي
چې په غېږه د بېدیا کښې وړشېږي

۱۳۶۳/۱۲/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دپښتواك پښتواك

چې مين په ملي واك، په ملي ځواك دی
چې دښمن د هر ښكيلاك، د هر زبيښاك دی
كه هر څو تري لري ځي بيا را غبرګيږي
د اولس غوښتن خلاصوي د اسې پښتواك دی

۱۳۶۵/۲/۲۸

# آسيا

په افغان او په لبنان كښي كربلا ده
په ايران عراق نښانه لوبلا ده
د انسان د كړو د لاس دل كيږي
آسيا ځكه سر ګردانه ده، آسيا ده

۱۳۶۵/۱۱/۲۱

